# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۸مه | دویم کال| ۳۳٦مه گڼه


2 017550 139621

## هېواد

۴ مخ

### میکرونیزیا

په دغه هېواد کې د هوا او چاپېریال ساتنه ښه ده او داسې اسانتیاوې شته، چې له اړو خلکو سره د ناروغتیا، وزګارتیا، زړښت او معلولیت په وخت کې مرستې وکړي.



## د جرمني او طالبانو اړیکې؛

# جرمني طالبانو ته د دویم بن کنفرانس د جوړولو وړاندیز کړی دی



۳

### چا اسلام اباد ته د طالبانو د ورتګ مخه ونیوله؟

۲ مخ

### په افغانستان کې د جګړې د تسلسل لاملونه

۲ مخ

### د مسکو هغه ځایونه چې هر کال میلیونونه سیلانیان ورځي

۳ مخ

## په کندوز کې د سلو ښوونځیو د تعمیرونو د جوړېدو ډبره کېښودل شوه



د کندوز د پوهنې رییس نجیب‌الرحمان ثاقب له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، دغه سل ښوونځي د پوهنې وزارت، د همکارو موسسو او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د برنامې له لورې جوړېږي.

ثاقب ویلي: «دغه ښوونځي په ۱۳۹۸ کال کې د کندوز مرکز او په ولسوالیو کې د یو کال په موده کې په اساسي ډول رغول کېږي او مالي لګښت یې د دولت له بودجې او د نړیوال بانک له لورې ور کول کېږي.»

د دغه ولایت چارواکي په داسې حال کې د کندوز په کچه د سلو ښوونځیو د جوړېدو خبر ورکوي، چې له دې وړاندې د دغه ولایت د پوهنې ریاست چارواکو ویلي وو، په نوموړي ولایت کې ۵۰۹ ښوونځي شته، چې نږدې ۲۰۰ یې ودانۍ نه لري.

د دغو تعمیرونو په جوړېدو سره به د یادو ښوونځیو د ښوونکو او زده کوونکو ستونزې هوارې شي.

## کرزی: نه غواړو چې د سولې په نامه افغانستان د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي

پخواني ولسمشر حامد کرزي خبرداری ورکړی چې که د افغان سولې په روان بهیر کې د هېواد ملي ګټې تضمین نه شي، ښایي افغانستان د سترو قدرتونو د سیالۍ پر ډګر بدل شي.

کرزي له اسوشیېټډ پرېس سره په یوه مرکه کې ویلي، چې افغانان هېڅکله هم نه غواړي چې افغانستان یوځل بیا د سولې په نوم د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي او د سولې بهیر د سترو قدرتونو د سیالۍ له امله یرغمل شي.

کرزي ویلي: «موږ نه غواړو چې افغانستان یوځل بیا د سولې بهیر تر نامه لاندې د پاکستان تر سیاسي نفوذ لاندې راشي، ما امریکایانو ته په ډاګه ویلي چې په افغانستان کې د سولې هڅې او دا چې امریکا وغواړي د افغانستان پر سر له پاکستان سره معامله وکړي، ډېر توپیر لري».

د حامد کرزي په خبره، سره له دې چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر نه دي، خو دغه ډله د افغانانو د سترې مجموعې د یوې برخې په توګه بین‌الافغاني خبرو ته حاضر دي او تمه ده چې دغه لړۍ له حکومت سره مخامخ خبرو ته هم لاره خلاصه کړي.

نوموړي دغه راز ویلي، اوسمهال دېته اړتیا ده چې د طالبانو ترڅنګ افغان حکومت هم د خبرو لپاره نرمښت وښیي او د حل مناسبه لاره پیدا کړي.

د هغه په خبره: «سوله د ټولو افغانانو ګډه او ستره هیله ده. دېته په کتو باید د افغانانو د وینې تویېدل پای ته ورسېږي. فکر کوم اوس د دې وخت را رسېدلی چې حکومت د خپل دریځ په هکله بیا فکر وکړي او د پر مناسبو حللارو فکر وکړي. دا کار د ټولو لوریو په ګټه دی.»

## طالب استازو اسلام اباد ته خپل سفر لغوه کړی دی



۵ مخ

## شورای راه نجات افغانستان:

## ملا برادر تاکنون به قطر نرفته‌است



هر چند پس از رهایی ملا برادر از زندان و تعیین وی به حیث رئیس دفتر سیاسی طالبان در قطر امید بر این بود که وی بزودی کارش را آغاز خواهد کرد؛ اما شورای راه نجات افغانستان می‌گوید که ملا برادر چند سال در زندان و از مسایل به دور بوده است بناءً برای وارد شدن به میدان نیاز به زمان دارد.

سید اکبر آغاز رئیس این شورا و یکی از مقامات پیشین طالبان به رادیو آزادی گفته است که نقش اساسی ملا برادر قبولاندن تصامیم بر طالبان می‌باشد، نه مذاکرات چون به نقل از وی ملا برادر در میان طالبان نظامی از محبوبیت زیادی برخوردار است.

وی گفته است: «نقش اساسی ملا برادر که در زمینه صلح روی آن تأکید می‌شد، این بود که اگر در فیصله‌های صورت گرفته نام وی باشد، طالبان نظامی آنرا خواهند پذیرفت چون در میان آنان از محبوبیت زیادی برخوردار است، اما در مسئله مذاکرات کسانی که مصروف اند فکر می‌کنم نقش آنان بسیار برازنده است».

ملا عبدالغنی برادر که یکی از طالبان پیشتاز عنوان می‌شود، سال گذشته میلادی از زندانی در پاکستان آزاد شده و سپس به حیث معاون سیاسی ملا هیبت‌الله رهبر گروه طالبان و رئیس دفتر سیاسی این گروه در قطر تعیین شد.

طالبان لیست جدیدی را که برای مذاکرات جاری قطر در مورد صلح اعلام کردند، گفته‌اند که این لیست توسط ملا برادر و با مشوره رهبر آنان ترتیب شده‌است.


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.

وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696

+93 (0) 202512626

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co@gmail.com

دریــځ

## چا اسلام اباد ته د طالبانو د ورتگ مخه ونيوله؟

طالبانـو پـه رسـمي ډول ومنلـه چـې د اسـلام ابـاد غونـډه ځنډېدلې ده. د طالبانـو له خوا پـه خپـره شـوې اعلاميـه کـې ويل شـوي: ((مـوږ پـه غونـډه کـې د خپلو اسـتازو د گـډون تابيا نيولې وه، خـو متاسـفانه د مذاکـراتي ټيـم زياتـرو غـړو تـه د امريکا او ملگرو ملتونو د تورلېسـت له امله د سـفر زمينـه مسـاعده نـه شـوه، له همدې امله يـاده غونـډه وځنډېـده)). طالبانـو ټينـگار کـړی چـې غونـډه دوی نـه ده لغـوه کـړې او پـه دې اړه پـه رسـنيو کـې خپـاره شـوي راپورونـه چـې د غونـډې د لغـوه کېـدو لامـل گڼـل کېـږي، ناسـم دي.

د طالبانـو همدغـه پـلاوی چـې ټـاکل شـوې وه اسـلام ابـاد تـه ولاړ شي، تـر دې وړانـدې ډېـرو هېوادونـو تـه سـفرونه کـړي وو، خو تور لېسـت د دوی د سـفر مخـه نـه وه نيولـې، خـو اوس ولـې تـور لېسـت د دوی د سـفر مخـه نيـسي؟

د طالبانـو د همدغـه پـلاوي لويـه برخـه غـړي دوه ځلـه مسـکو تـه ولاړل، يـو ځـل اماراتـو تـه ولاړل، ايـران تـه يـې سـفرونه وکـړل، چيـن تـه ولاړل، پاکسـتان تـه تللـي وو او ډېر نور سـفرونه يـې هـم کـړي وو، خـو هېڅکلـه هـم د ملگـرو ملتونـو او امريـکا لېسـت د دوی پـر وړانـدې خنـډ نـه شـو. يـوازې لـه گوانتانامـو را خـوشي شـوو دوو بنديانـو چـې د مذاکـراتي ټيـم برخـه وو، اماراتـو تـه پـه تـگ کـې سـتونزه پيـدا شـوه چـې وروسـته بيـا امريـکا هغـه سـتونزه هم حل کـړه. اوس چـې تـور لېسـت جدي نيول شـوی، تـر شـا يـې نـور لاملونـه دي. پـه دې چـاره کـې تـر گـردو سـتر لامـل دا دی چـې ښـايي امريـکا نـه غوښـتل دغـه غونـډه وشي. پـه دې وروسـتيو کـې پـه کشـمير کـې خونـړي بريـد د پاکسـتان او هنـد اړيکـې ترينگلـې کـړې دي او هنـد لـه امريـکا غـواړي چـې پـر پاکسـتان فشـار راوړي. اوس ښـايي امريـکا پـر پاکسـتان د فشـار لپـاره او د هنـد د خوښـۍ لپـاره د تور لېسـت مسـئله جـدي گڼلـې وي چـې پـه پايلـه کـې يې اسـلام ابـاد تـه د طالبانـو ورتگ له خنډ سره مخ شـوی دی. ځينـې نـور لاملونه به هم پـه دې چاره کـې دخيـل وي چـې ملگـرو ملتونـو تـه د حکومت شـکايتونه يادولـی شـو، خـو تـر گـردو اسـاسي لامـل پکـې امريکايـي اراده او هـدف ښـکاري. کـه پـه تـور لېسـت ټينـگار کېـږي او دا چـاره جـدي نيـول کېـږي، نـو د طالبانـو او امريـکا ترمنـځ بـه روانـې خبرې له خنـډ او ځنډ سره مخ شي. ښـايي طالبـان همدغه کار تـه په غبرگون کـې پـه قطـر کـې هـم خبرې بنـدې کـړي. دا هغـه څـه دي چـې امريـکا يـې نـه غـواړي، نـو ښـايي تـور لېسـت د طالبانـو پـه نـورو سـفرونو کـې جـدي ونـه گڼـل شي او يـوازې پـه دغـه سفر او وخـت کـې دا چـاره جـدي گڼـل شـوې وي. حکومـت ښـايي هڅـه وکـړي چـې دا چاره جـدي وگڼـل شي او طالبـان سـفرونه ونـه شي کـړلای، خـو لـه طالبانـو سره خـبرې د امريـکا غوښـتنه ده، نـو لـه شـک پرتـه چـې دا سـتونزه بـه جـدي نـه وي. تـر هغـو چـې د امريـکا اړتيـا وي، طالبـان به له تور لېسـت سره سره سـفرونه وکـړي او آن کـې اړتيـا يـې وي، لـه تـور لېسـت څخه به و ايسـتل شي. له همدې امله د اسـلام ابـاد د غونـډې ځنـډول او د طالبانـو پـه ورتـگ کـې سـتونزه يـوازې د امريـکا لـه ارادې، اهدافو او غوښـتنو سره تړلـې چـاره ده.

# په افغانستان کې د جگړې د تسلسل لاملونه

لیکنه: عزیزالله شهباز

هـر څـوک غـواړي پـه خپـل هېـواد کـې پـه ارامـه، سـوله ييـزه او د امنيـت پـه فضـا کـې خپـل ژوند وکـړي او اوسـمهال داسـې پرمختللـي شيان جـوړ شـوي او کشـف شـوي چـې پـه وسيله يې شخص کولـی شي د خپـل ورځنـي ژونـد چـارې پـه کـم تکليـف او لـږې انـرژۍ سره پرمخ بوځـي. خـو داسـې هـم نـه ده چـې د سـوکالۍ فضـا بـه تـل لـه ټولنـې خپـل غـبرگ لاسـونه را چاپېـر کـړي وي، بلکـې امـکان شـته چـې پـه مقابـل يـې کـې بعضـې کـورني او بهـرني گواښـونه خپـل سر را پورتـه کـړي، ويـې گواښـي او د دې اجـازه ورنـه کـړي چـې پـر ټولنـه د تـل لپـاره حاکـم شي.

يـو هېـواد د خپل وخت له نـورو پرمختللو هېوادونـو څخـه د شـاته پاتـې کېـدو ډېـر لاملونـه لـري او هـر لامل کولـی شي چې خپـل رول پـه بېلابېلو برخو کـې ولوبوي. هغـه هېوادونـه چـې د ځينـو گواښـونو ښـکار گرځېـدلي دي، پـر ځـای پرېږدم؛ غـواړم دلتـه پر خپـل هېواد (افغانسـتان) بحـث وکـړم چـې ولـې شـاته پاتې شـوی دی؟ لـه کلونـو راهيسـې لـه جگـړو سره لاس او گرېـوان دی او ولـس يې ولې ورځ تـر بلې ځپـل کېږي؟ له اساسي حقوقو څخـه محرومېږي او ځـوان نسـل يـې لـه ننگونـو سره مـخ کېږي؟

دغـه څـه ډېـر لاملونـه لـري چـې دلتـه بـه پـرې د خپلـې محـدودې څېړنـې او مطالعـې پـه اسـتناد، ليکل وکـړم چې په هـره ليکنـه کـې بـه د يـوه يـا دوو لاملونـو پـه اړه څـه وضاحـت ورکـوم، څـو لـه دغو لاملونـو څخـه خـبرو خلکو تـه يـوه يادونه وشي او کـه پـه دغـو لاملونـو کـې کـوم لامـل پـه سـمه توگـه نـه وي څېړل شـوی او يـا بـل داسـې لامـل چـې د جگـړو د تسلسـل سـبب شـوی وي يـا زه يـې پـه ليکلـو نـه وم توانېدلـی يا دلتـه د لامل په توگـه پـه گوته شـوي نـه وي، ور اضافه او پـه کره توگه تـر څېړنې لانـدې ونيسي او هغـه خلـک چـې لـه دغـو لاملونو نـه دي خـبر، د دغـو لاملونـو لـه تکراره چـې يـو ځـل بيـا هېـواد او ولـس د جگـړې لـوري تـه سـوق نـه کـړي، جـدي پـام وکـړي.

**ناپوهي**

ناپوهـي د افغانسـتان د روانـي غميـزې لومـړی لامـل دی چـې د ټولـو لاملونـه پـه سر کـې ده؛ ځکـه پوهـه د يـو هېـواد بنسـټ جـوړوي او د پوهـې پـه واسـطه يو دولـت کـولای شي چـې لـه خپلـو داخلي سرچينـو څخـه پـه گټـې اخيسـتو، شـتمن او پـر ځـان بسـيا شي. يووالـی راولـي او خلکـو تـه دا احسـاس ورکـوي چـې بايـد يـو لـه بـل سره اوږه پر اوږه د سـتونزو، اړو او ناخوالـو پـر وړانـدې ودرېـږي، خو خبره دا ده چـې د افغانسـتان تېـرو پاچهانـو د پوهـې او زده کـړې لپـاره څـه کـړي او که نه؟!

کـه د افغانسـتان پـه معـاصر تاريخ کـې پـر زده کـړو يـو ځغلنـده نظـر واچـوو، نـو د خپلـي پوښـتني ځـواب بـه ومومـو. د اميـر شـېرعلي خـان پـه پېـر کـې د دري گونـو چـاپ خونـو پـه پرانيسـتو، لـه زده کـړو او لـه متنوعـو علومـو سره اشـنايي پيـل شـوه، خـو دغـه هرڅـه د کورنيـو او بهرنيـو تضادونـو، کشمکشـونو او لـه گاونډيـو هېوادونـو سره د پولـو د ټاکلـو پـه وجـه، لـه خـاورو سره خـاورې شـول. لـه امیـر شـېرعلي خـان وروسـته، د هغـه زوی يعقـوب خـان کـورني وضعيـت تـه د نـه پاملرنې، د هغـه د اداره کولو د وړتيا د نـه درلـودو او د انگرېزانـو د هڅـو لـه امله هغـه دېتـه اړ شـو چـې د دوی پـه خوښـه کار وکـړي او پـه دې سره لـه نومـوړي څخـه د زده کـړې پروگرامونه پاتې شـول؛ ځکـه د هغـه مهـال چاپېريـال داسـې و چـې د هېـواد واگـې د داسـې چا لاس ته ورغلـې وه، چـې تجربـه يـې نه درلـوده او د ځمکنـۍ بشـپړتيا په سـاتلو نه پوهېده. همغـه وو چـې پـه پايله کې يې پـه هېواد کـې د زده کـړو لپـاره کـوم اسـاسي کار ونـه شـو او خلـک لـه زده کـړو ډېـر لـرې پاتـې شـول.

د عبدالرحمـن پـه وخـت کـې دارالحفاظونـه جـوړ شـول، خـو دغـو دارالحفاظونـو بيـا کـم حافظـان درلودل. کومـې مطبعـې چـې د نومـوړي تـر وختـه جـوړې پاتـې وې او د گټـې اخيسـتنې وړ وې، عبدالرحمـن خـان پـرې ځينـې رسـالې چـاپ کـړې او پـه دې سره بـه يـې د حکومـت او خلکـو ترمنـځ پوهـاوی کېـده. د هغـه دې دوه گوني سياسـت له مخـې بـه يـې خلـک د چـاپ شـوو رسـالو لـه لارې د انگرېزانـو پـر وړانـدې جهاد ته رابلـل. لـه دې ټولـو سره سره، د نومـوړي پـه وخـت کـې هـم داسـې کـوم ځانگړی ځـای نـه و چـې لـه خلکـو سره يـې د هغـوی پـه پوهـاوي کـې مرسـته کړې وي. داسـې هـم نـه وه چـې هغـه مهـال د زده کـړو لپـاره زمينـه نـه وه برابـره، بلکـې دا هـر څـه وو او مـالي تـوان مـو هـم درلـود، خـو د عبدالرحمـن خـان ټولـه پاملرنـه د ملـي اردو جوړولـو او د خپـل تخـت او پاچاهـۍ سـاتلو تـه وه.

ورپسـې د نومـوړي د زوی حبيـب اللـه خـان پـه وخـت کـې رسـمي زده کـړو تـه تـر يـوه بريـده پاملرنـه وشـوه. د هغـه پـه وخـت کـې د لومـړي ځـل لپـاره د ښـوونځي د بنسـټ ډبره کېښـودل شـوه. هغـه ښـوونځي پـه دريـو دورو ووېشـل او ترڅنـگ يـې د نظامـي زده کـړو لپـاره حـربي ښـوونځی پرانيسـت. د نومـوړي پـه دغـه کار سره خلـک د زده کـړو لپـاره وهڅـول شـول، نسـل پـه بدلېـدو شـو او د تعليـم يافتـه خلکـو پـه ذهنونـو کـې د افغانسـتان د پراختيـا لپـاره نـوې طرحـې راوټوکېـدې. د حبيـب اللـه خان پـه دوره کـې د زده کـړو پـر وړانـدې هېـڅ خنډ نه و، خـو د هغـه پـه وخـت کـې همدومـره ښـوونيزو بنسـټونو بسـنه کوله؛ ځکه هغه وخـت مـو پـه خپـل هېـواد کـې دننـه پوه وگـړي نـه درلـودل، چـې د ښـوونکو پـه توگـه زده کوونکـو تـه درس ورکـړي؛ ځکه هغـه مهـال هرڅـه پـه لومړنيـو پړاوونـو کـې وو. هغـه ښـوونځي چـې د حبيـب اللـه خـان پـه وخـت کـې پرانيسـتي وو، پـه هغـو کـې اکثره اسـتادان د هنـد وو او دوی هغـه مهـال هـم لـه خپلـې تربگنـۍ نـه تېرېـدل، د خپـل بـادار پـه چوپـړ کـې وو، زده کوونکـو تـه بـه يـې پـه ښـه توگـه درس نـه ورکـاوه او پـه ژمنيـو رخصتيـو کـې بـه يـې هـم دوی تـه داسـې پېچلـې کورنـۍ دنـدې ورکولـې چـې ټـول ژمـی بـه يـې پـه هغـو تېـراوه او د نـورو شـيانو زده کولـو تـه بـه نـه وزگارېـدل. لـه دې ټولـو سره سره، کـه د حبيـب اللـه خـان د واکمنـۍ وروسـتيو مـودو تـه متوجـه شـو، هغـه مهال نومـوړی پر غيـر ضروري کارونـو بوخـت و او د دې وخـت يـې نـه درلـود چـې د زده کـړې او د هېـواد د پرمختـگ لپـاره کار وکـړي.

لـه دې وروسـته د امـان اللـه خـان پـه دوره کـې د زده کـړو لمـن وغځېـده او پـه هېـواد کـې نور ښـوونځي هم جوړ شـول، پـه ځانگـړې توگـه د نجونـو لپـاره هـم ښـوونځي پرانيسـتل شـول. د هېـواد ډېر زده کوونکـي د لوړو زده کـړو د کولو لپاره بهرنيـو هېوادونـو ته ولېږل شـول. د سراج الاخبـار ترڅنـگ، نـورې جريـدې هـم د عامـو خلکـو د پوهـاوي لپـاره پـه خپرونـو پيـل وکـړ، خـو دغـه روڼ لمـر د سـقاوي زوی پـه راتـگ، د تـورو تيـارو پـه پټو کې پـه پټېدو شـو او د سـقاو زوی په دوره کې د تېـر پـر خـلاف هرڅـه لـه خـاورو سره خـاورې شـول او هغـه شـته امکانـات مـو هـم لـه منځـه ولاړل.

دغـه راز د نادرخـان پـه دوره کـې هـم د امـان اللـه خـان د وخـت د زده کـړې پيـل کـړي بهيـر تـه ځانگـړې پاملرنـه ونه شـوه، بلکـې د هغه د واکمنـۍ په دوران کـې هـم دغـه بهيـر مخ پـر ځـوړ روان و. همـدې حالـت تـه ورتـه د هاشـم خـان دوره، کـه څـه هم ظاهرشـاه د خپل پلار لـه مړينـې وروسـته پاچـا و، خـو پـه اصل کـې د چـارو د سمبالښـت صلاحيـت د هاشـم خـان پـه لاس کـې و، دا دوره هم پـه بـې پروايـۍ کـې تېره شـوه. له هاشـم خـان وروسـته د شـاه محمود(څنگه چې مـې مخکـې ووېـل ظاهرشـاه يـوازې پـه نـوم ټولـواک گڼـل کېـده، پـه حقيقـت د چـارو واگـې پـه هغـه وخـت کـې د نومـوړي د ترونـو پـه لاس کـې وه او ټـول کارونـه د دوی پـه اشـارو کېـدل)، پـه دوره کـې لـه کـورني اسـتبداد څخـه د خلکـو د پـام اړولـو لپـاره ځينـې کارونـه پيـل شـول، چـې پـه ډله کې يـې د کابل پوهنتـون جـوړول د يادونـې وړ دي. لـه دې وروسـته د زده کـړې پـه برخـه دغـه حالـت پـه لـږ بدلـون او پرمختيـا سره د خلقيانـو تـر دورې پـورې دوام وکـړ، خـو د خلقيانـو، پرچميانـو، مجاهدينـو او طالبانـو پـه دورو کـې د زده کـړې پـه برخـه کـې داسـې کـوم ځانگـړي کارونـه نـه دي شـوي چـې دلتـه يـې يادونـه وکـړو، بلکـې پـه دغـو دورو کـې خلک تر ډېـره لـه زده کـړو بـې برخـې وو.

تـر دې ټولـو وروسـته، د طالبانـو د رژيـم لـه ړنگېـدو راپدېخـوا د حامـد کـرزي د دورې پـه پيـل کـې د زده کـړو لپـاره پـه ځينـو ولايتونـو کـې لومړني کارونـه وشـول او د بـې سـوادۍ کچـه چـې د جگـړې اصلـي لامـل وه، راټيټـه شـوه. خـو لـه دې سره سره اوس د پوهـې او زده کـړې کچـه د بـل هـر وخـت پـه پرتله پـر ښـه لـور روانـه ده.

## د عدالت غوښتنې ډله: د ولسي جرگې ټاکنې دې باطلې شي

د ولسي جرگې د عدالت غوښتنې ډلې د ولسمشر له لوري د ټاکنيزو کمېسيونونو د کمېشنرانو د عزل کېدو ترڅنگ، د ولسي جرگې د ټاکنو د باطلېدو غوښتنه هم کړې ده.

د دې ډلې غړو تېره ورځ په کابل کې په يوه خبري ناسته کې له ولسمشر غني غوښتي، چې د ولسي جرگې ټاکنې باطل اعلان کړي.

د ولسي جرگې نايب منشي او د دې جرگې د عدالت غوښتنې گروپ غړي عرفان الله عرفان ويلي، پراخې درغلۍ او د کمېشنرانو لرې کول ښيي چې د تلې د ۲۸مې ټاکنې مشروعيت نه لري او د خلکو په رايو لوبې شوې دي.

هغه ويلي: «بايد په ټول هېواد کې انتخاباتي رايې باطلې شي، يو ځل بيا دې د نوې قيوميت او يا نوې اداري له خوا انتخابات ترسره شي. که داسې ونه شول، انتخابات مونږ ته د منلو وړ نه دي او د افغانستان خلک به د جمهوري



رياست په انتخاباتو کې گډون ونه کړي او هغه اسناد چې په دې اړه زموږ په لاس کې دي، سبا به يې لويې ځارنوالۍ ته وسپارو.»

دې ډلې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ډالرو د پلور او پېر په گرم بازار تورن کړی او ويلي يې دي چې داسې اسناد په لاس کې لري، چې له مخې يې د ولسي جرگې يوه څوکۍ په اتلس لکه امريکايي ډالرو پلورل شوې ده.

دغه راز د ۴۳۲ زرو رايو ورکوونکو د نوملړ نه موجوديت او ځينې نور تورونه هغه څه دي چې د عدالت غوښتنې ډله يې د ټاکنو په خپلواک کمېسيون پورې کوي.

دوی ويلي، که مفسدين محاکمه نه شي، د جمهوري رياست په راتلونکو ټاکنو کې به گډون ونه کړي او په پراخو اعتراضونو به لاس پورې کړي.

دې ډلې ويلي، د ټاکنو د قانون داسې ځای نشته چې د کمېسيونونو له لوري نه وي نقض شوی چې دا يو جنايت دی.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ ولسمشر غني د ټاکنو د قانون تعديل شوې طرحه د يو فرمان په صادرولو سره توشېح کړه، چې د قانون له نافذېدو سره سمدستي جمهوري رياست اعلان وکړ چې د ټاکنيزو کمېسيونونو کمېشنران عزل شوي حسابېږي، د کار کولو حق نه لري او لويې ځارنوالۍ ته يې دنده وسپارله چې له کمېشنرانو څخه پلټنې وکړي.

بلخوا د لويې ځارنوالۍ وياند جمشېد رسولي ويلي چې له عزل شويو کمېشنرانو پلټنې پيل شوې او کله چې ختمې شي، پايلې به يې له ولس سره شريکې شي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون بيا ويلي، د ولسي جرگې د ټاکنو بيا ترسره کېدل امکان نه لري.

د دغه کمېسيون مرستيال وياند ميرزا محمد حقپرست په دې اړه ويلي: «تر يوې کچې انتخاباتي نظام د بشپړېدو په حال کې دی او هڅه دا ده چې هر څومره چې ژر ممکن وي، پاتې ولايتونه هم اعلان شي، تر اوسه د انتخاباتو د لغوه کېدو په اړه د انتخاباتو کمېسيون هېڅ نظر نه لري او هېڅ امکان هم نه لري».

## د جرمني او طالبانو اړيکې؛

# جرمني طالبانو ته د دويم بن کنفرانس د جوړولو وړانديز کړی دی




جرمني طالبانو ته ويلي چې غواړي د افغان ستونزې لپاره د بن دويم کنفرانس جوړ کړي. وسله وال طالبان او جرمني له يو بل سره اړيکې لري او د دوی ترمنځ څو ځله د افغان جگړې د ختمولو او سولې په اړه خبرې شوې دي. وسله والو طالبانو ته نږدې سرچينې وايي چې جرمني له طالبانو سره نږدې اړيکې لري او موخه يې هم دا ده، چې د افغان جگړې په پای ته رسولو کې همکاري وکړي.

د سرچينې په خبره، جرمني څو ځله طالبانو ته وړانديز کړی دی، چې په دغه هېواد کې دې خپل سياسي دفتر پرانيزي او له دې ځايه دې د سولې مسايل مخ ته يوسي.

سرچينې وايي چې د جرمني فدرالي حکومت د همدغو اړيکو په دوام، د افغانستان په قضيه کې د ښکېلو خواوو د يو ځای کولو او ستونزې د حلولو په موخه، د بن د دويم کنفرانس د جوړولو وړانديز هم کړی دی. د دغه احتمالي کنفرانس د جوړېدو لپاره جرمني چمتووالی ښودلی دی او په همدې اړه يې له طالب لوري سره هم خبرې کړې دي.

وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه په رسمي توگه څه نه دي ويلي، خو د چارو شنونکي په دې باور دي چې طالبان د بن له لومړي کنفرانسه ښه خاطره نه لري، نو ښايي د بن دويم کنفرانس ته هم حاضر نه شي. د سياسي مسيالو شنونکی وحيد مژده وايي، طالبان به دغه کنفرانس ته تياری ونه ښيي، ځکه د بن له لومړي کنفرانسه ښې خاطرې نه لري. خو سره له دې هم د جرمني فدرالي حکومت د بن د دويم کنفرانس لپاره خپلې هلې ځلې پيل کړې دي. دغه هېواد غواړي چې په ياد کنفرانس کې د طالبانو ټول مشران حضور ولري او په دې توگه په افغانستان کې روانې جگړې ته د حل معقوله لار پيدا کړي.

د طالبانو ترڅنگ، افغان حکومت هم تر اوسه د دغه ډول راپورونو په اړه غبرگون نه دی ښودلی. بلخوا د ملي شورا غړي بيا وايي، که د بن دويم کنفرانس جوړېږي، نو د افغانستان ټولې ستونزې بايد پکې مطرح شي او د دغه کشالې اساسي او دايمي حللارې بايد ولټول شي. د ولسي جرگې غړي عبدالرحيم ايوبي ويلي: «که د افغانستان د ستونزې لپاره د بن په څېر يو بل کنفرانس جوړېږي، نو دا ښه خبره ده، خو پرېکړه به زموږ په اړه بهرنيان نه کوي. ستونزې ته به د افغانانو ترمنځ د افغانانو په مشرۍ د حل لار پيدا کېږي. کنفرانس بايد د دې سبب شي چې لويې جرگې او ټولو اړخونو ترمنځ خبرو ته زمينه برابره شي.»

د ولسي جرگې بل غړی عبدالقادر وطندوست بيا وايي، چې تر کنفرانس مخکې بايد لويه جرگه را وبلل شي. د نوموړي په خبره، که لويې جرگې طالبانو او ښکېلو اړخونو ته دا اجازه ورکړه، چې د افغانستان د ستونزې د حل لپاره په بهرنيو هېوادونو کې سره جرگه شي، نو بيا دې د بن کنفرانس په څېر کنفرانسونه جوړ شي او له دې پرته دغه ډول اقدامات د افغانانو په گټه نه دي. نوموړی زياتوي: «د بن کنفرانس جوړېږي که بل هر کنفرانس جوړېږي، خو تر هر څه وړاندې بايد لويه جرگه را وبلل شي. هلته که افغانانو اجازه ورکړه، چې دوی دې بل ځای کې خپله ستونزه حل کړي، نو بيا دې د بن دويم کنفرانس وشي او له دې پرته چا ته د منلو نه دی».

د جرمني له لوري د بن د دويم کنفرانس د جوړېدو راپورونه داسې مهال خپرېږي، چې ولسمشر غني د سولې د مشورتي لويې جرگې د جوړولو غوښتنه کړې ده. د غني په خبره، په راتلونکې کب مياشت کې بايد د سولې مشورتي لويه جرگه جوړه شي او د افغان سولې په اړه به پرېکړه پکې کېږي. دغه اقدام ډېر خلک هيله من کړي دي، خو وايي چې لويې جرگې ته د خلکو په راوستو او انتخاب کې بايد شفافيت وي او يوازې هغه کسان دې نه رابلل کېږي چې د حکومت يا بل ښکېل لوري خبرې تاييد کړي، بلکې دوی بايد د افغانستان ستونزې ته رښتينې او دايمي حل پيدا کړي.

## خليلزاد د سولې خبرو په اړه اجرايه رييس عبدالله عبدالله ته معلومات ورکړي دي



اجرايه رييس عبدالله عبدالله د افغان سولې لپاره د امريکا له ځانگړي استازي سره د کتنې پر مهال ويلي، چې په هېواد کې د ځلوېښت کلنې جگړې تر پای ته رسولو بل هېڅ لومړيتوب نشته.

له دغه رياسته په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د ملي يووالي حکومت اجرايه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله تېره ورځ په کابل کې د افغان سولې لپاره د امريکا له ځانگړي استازي زلمي خليلزاد سره کتلي او د سولې ترڅنگ يې په ځينو مهمو مسايلو خبرې کړې دي.

سرچينې ليکلي، په دې کتنه کې خليلزاد د سيمې او نړۍ له هېوادونو د کتنې او د سولې په خبرو کې د پرمختگونو په اړه اجرايه رييس عبدالله عبدالله ته معلومات ورکړي دي.


عبدالله په دې کتنه کې په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره د زلمي خليلزاد او د امريکا له هڅو مننه کړې، سولې او پخلاينې ته رسېدل يې د خلکو هيله مندي بللې او ويلي يې دي، په هېواد کې د ځلوېښت کلنې جگړې له پای ته رسېدو پرته بل هېڅ لومړيتوب نشته.

د خبرپاڼې د معلوماتو پر اساس، د دې کتنې پر مهال په کابل کې د امريکا سفير هم گډون درلود.

ټاکل شوې وه چې خليلزاد به د روانې اونۍ په جريان کې اسلام اباد ته هم سفر وکړي، خو يوه امريکايي چارواکي امريکا غږ ته ويلي، چې خليلزاد روانه اونۍ پاکستان د سفر پلان نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه، طالب استازو هم نن پاکستان ته سفر کړی وای، خو د نامعلومو دلايلو له کبله دغه سفر ځنډېدلی دی.

## په يوه کال کې به د ملکي خدمتونو د کارکوونکو ټول بنسټيز اطلاعات ثبت شي



د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون ويلي، په يو کال کې به د انساني سرچينو د مديريت په يوه پرمختللي سيستم کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو ټول بنسټيز اطلاعات ثبت شي.

سرچينې ليکلي چې د انساني سرچينو په اطلاعاتي سيستم کې د معلوماتو د ثبت اجرايي پړاو، تېره ورځ په رسمي ډول د ياد کمېسيون د مشر نادر نادري او د کمېسيون د کمېشنرانو د معلوماتو په ثبتولو سره پيل شو. سرچينې زياته کړې: «په يوه مرکزي ډېټابېس کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د کره او دقيقو معلوماتو ثبت، په ملکي خدمتونو کې په سمه توگه د انساني سرچينو د پروگرام لپاره، د کارکوونکو د گومارنې د اټکل او کار موندلو په برخه کې مرسته کوي. د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتي چارو پروسه او دغه راز د کارکوونکو اړوند انضباطي او تشويقي کړنې، د يوې جامع او بشپړې طرحې په چوکاټ کې راولي او د انساني سرچينو د پراختيا او بدلون زمينه برابروي.»

سرچينې زياته کړې چې د کارکوونکي له هويتي مشخصاتو پرته، چې تل ثابت پاتې کېږي، نور معلومات کېدای شي چې د اړتيا په صورت کې نوي شي.

د کمېسيون په خبره، دا مهال افغانستان د ملکي خدمتونو ۴۲۴ زره کارکوونکي لري. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون مشر نادر نادري ويلي، چې د انساني سرچينو د مديريت سيستم جوړول، د افغانستان د اداري لپاره د پام وړ پرمختگ دی.

هغه زياته کړې چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په خپلواک کمېسيون کې د اطلاعاتو له راټولولو او ثبتولو وروسته، دغه بهير د پوهنې په وزارت کې هم عملي کېږي او وروسته نورو ادارو ته هم رسېږي.

# ټرمپ: د داعش اته سوه نيول شوي جنگيالي دې محاکمه شي



د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ويلي چې د اسلامي دولت ډلې يا داعش خلافت د ړنگېدو په حال کې دی او له اروپايي متحدانو يې غوښتي چې په سوريه کې له اتو سوو زيات افراطي وسله وال چې نيول شوي، تسليم کړي.

نوموړي په يوه ټوېټ کې ليکلي: «امريکا له برېټانيا، فرانسې، جرمني او نورو اروپايي متحدانو غوښتنه کوي چې په سوريه کې د داعش ډلې له اتو سوو زيات وسله وال چې موږ نيولي، بېرته تسليم او محاکمه کړي».

ټرمپ ليکلي، د داعش خلافت د ړنگېدو په حال کې دی، خو بديل يې هم دومره ښه نه دی چې موږ نيول شوي کسان ازاد کړو. هغه ويلي، دغه وسله وال به اروپا ته، چېرې چې دوی هڅه کوي بېرته ولاړ شي، نفوذ وکړي او متحده ايالتونه د دغه څه ننداره نه شي کولای.

په ورته وخت کې ټرمپ ټينگار کړی چې موږ د خلافت پر وړاندې تر بشپړې بريا وروسته له سوريې وځو.

دا په داسې حال کې ده چې اروپايي او ځينو نورو هېوادونو ويلي، چې سلگونه وگړي يې منځنې ختيځ ته تللي، څو هلته د اسلامي دولت ډلې يا داعش او نورو افراطي ډلو په پلوۍ په جگړو کې برخه واخلي. د بهرنيو هېوادونو ډېری دغه اتباع وژل شوي، نيول شوي او ځينو نورو يې هم هڅه کړې چې بېرته خپلو هېوادونو ته ستانه شي.

د دغو هېوادونو چارواکو هم له سوريې د دغو افراطي ډلو د بېرته را گرځېدو په اړه انديښنه څرگنده کړې ده.

د اسلامي دولت ډلې يا داعش په ۲۰۱۴ ز کال په سوريه او عراق کې ډېرې سيمې ونيولې او د اسلامي خلافت په نوم واکمنې يې اعلان کړه، چې د واکمنۍ په تېرو څو کلونو کې يې له بشري حقونو جدي سرغړونې کړې او هم يې تروريستي بريدونه ترسره کړي دي.

خو له څو کلنو جگړو وروسته په دواړو هېوادونو کې د امريکا ملاتړو ځواکونو دغه سخت دريځه ډله ځپلې او اوسمهال د سوريې پر يوه کوچنۍ برخه واکمنه ده چې هغه سيمه يې هم له لاسه د وتلو په حال کې ده.

ټرمپ تر دې وړاندې ويلي وو چې ډېر ژر به اعلان کړي چې داعش ډلې په سوريه کې بشپړه ماتې خوړلې ده.

هغه د تېر کال په ډسمبر کې هم په خپل دغه اعلان سره چې داعش ډله په سوريه کې ماته شوې او خپل دوه زره سرتېري له دغه هېواده باسي، د امريکا د کانگرېس غړي او متحدين حيران کړل.

د ټرمپ د اداري نيوکه کوونکي وايي، چې له سوريې د امريکايي ځواکونو په وتلو سره به په دغه هېواد کې خلا رامنځته شي، چې ورسره به د اسلامي دولت ډله په سوريه او عراق کې بېرته ځان منسجم کړي.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوولسم څپرکی
### د وياړ له پاسه وياړ




زمونږ ټولو لپاره لوی درس دا دی چې ولې باید د جلا جلا معیارونو له مخې پر مونږ قضاوت وشي؟ مونږ د نه منلو وړ کړنو بېلگې لرو چې د ځینو له خوا توجیه کېږي. دا خبره چې "گټل تر هر څه ارزښمن او مهم دي" نه یوازې د سپورټ په ډگر کې، بلکې په سوداگرۍ او د ژوند په ټولو برخو کې د یوه شعار په توگه تر سترگو کېږي.
شخصیت یا د انسان طبیعت او فکر دا نه دی چې په هغه څه پسې شي کوم چې د ترسره کولو حق یې لري، بلکې مهمه دا ده چې څه کول سم او گټور دي. قوانین د انصاف جذبه وړاندې کوي او د مدنیت رامنځته کول شوني کوي. ښایي له قانون څخه پیروي مونږ ډېر ښه سرې نه کړي، خو له قانون څخه سرغړونه مو بیا له خطر او گواښ سره مخ کوي. کله چې مونږ له یوه قانون څخه سرغړونه کوو په اصل کې خپل وياړ په خطر کې اچوو.
ارزښتونه مونږ ته د یوه آمر یا مادون او یا هم د یوه پلار او یا د یوه هېوادوال اوسېدو په توگه گټورې او له مانا برخمنې لارښوونې لري. د یادو اساساتو له مخې مونږ یوه غوره ټولنه رامنځته کولای شو. په خپل ژوند کې هغه پوښتنه چې باید له خپل ځان څخه یې وکړو دا ده چې کوم څه سم دي چې ترسره یې کړو؟ نه دا چې څه وکړو څو د نورو پام راوگرځي. نیبر ۲۵ کاله وروسته هغه صحنه یادوله چې دی له استډیوم څخه د وتلو په حال کې و او هلته د گټونکو نومونه اخیستل کېدل، په داسې حال کې چې دی هلته د بریالي کېدو لپاره ورغلی و. نوموړي د یادې سیالۍ په اړه بد احساس درلود، د خپل ځان او خپلې پرېکړې په اړه بیا خوښ و. د یوې لوبې بایلل هېڅکله پر ځان باندې د هغه د باور له لاسه ورکولو سره پرتله کېدای نشوای. آیا سیالي ددې لپاره وه څو معلومه شي چې هغه تر نورو چټک دی؟ آیا د ټول ژوند لپاره یو درس نه و؟ [هو همداسې ده.] که نیبر غوښتي وای کولای یې شوای چې ادعا وکړي او ځان پر حقه ثابت کړي، ځکه دا د دوهم لوبغار تېروتنه وه چې په وخت یې پرېکړه ونه کړه، خو د نیبر پرېکړه د وياړ وړ وه او یو لوی درس پکې پروت دی چې باید زده شي. ۲۵ کلونه وروسته کله چې هغه پلار شو هغه د خپلې پرېکړې اغېزه لا ډېره درک کړه، ځکه که چېرې خپله یې په یاده پېښه کې ټگي برگي او ناسمه پرېکړه کړې وای اوس به یې څرنگه کولای شول چې خپلې لور ته د رښتینې اوسېدلو درس ورکړي. څرنگه به هغه خپلې لور ته دا درس ورکاوه چې وياړمن اوسېدل له وياړلو څخه غوره دي.
ځواکمن اوسېدل
په ښوونځي کې ډېر تکړه نه وم. د ټولگي په وروستیو څوکیو کې به کېناستلم او لومړیو څوکیو واله کسانو ته به مې مزاحمت کاوه. زه یوازینی کس وم چې کله به ښوونکی ټولگي ته دننه کېده ما ته به یې ویل چې د ټولگي کونج ته لاړ شه او هلته په یوه پښه ودرېږه. ما به ترې پوښتنه کوله، صېب! آخر زما گناه څه ده؟ ښوونکي به ویل تر اوسه دې کومه گناه نشته خو پوهېږم چې اوس یوه گناه کوې.
په لسم ټولگي کې مې په آزموینه کې نقل وکړ. ناکام شوم، کله چې مور مې زما د آزموینې پایله ولیده ما ترې بښنه وغوښته. ورته ومې ویل: "مورې بښنه غواړم، زه په خپله تېروتنه باندې پوه شوم. خو لطفاً ما له ښوونځي څخه وباسه، نور بس دی، نه یې وایم." مور مې وویل:»نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وگالې.« بیا مې وویل: مورې دا ډېر شرم دی چې ټول بل ټولگي ته ځي او زه به بېرته په لسم ټولگي کې کېنم. مور مې بیا وویل: «نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وگالې.» بیا مې وویل: چې مورې زه بښنه غواړم. ما خپل درس واخیست، چې په دې سره به زه یو کال خپل پرمختگ او ژوند له لاسه ورکړم. مور بیا وویل: «نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وگالې.» بیا یې زیاته کړه: "زه غوره گڼم چې خپل یو کال وخت او ژوند له لاسه ورکړې خو داسې نه چې په ټول ژوند کې خپل اخلاق له لاسه ورکړې." اړ شوم چې لسم ټولگی له سره ووایم. مور مې خورا اصولي او ډسیپلین منونکې ښځه وه. نن له هغه څه چې هغې وکړل خوښ او راضي یم. هغه څه چې هغې وکړل هغه مهال ما ته یو سرخوږی و خو زه نه پوهېدم چې په حقیقت کې له مینې برخمنه یوه چاره وه. ځکه هغې زه له نړۍ سره د مخ کېدو لپاره چمتو کولم. هغه پوهېده چې نړۍ به ما ته تر دې ډېر کلک او سخت ځواب راکړي. د هغې دغه خبره چې « زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید بیه پرې کړې.» اوس هم زما په غوږ کې خورا خوږې انگازې کوي. هغې زما ژوند ته نوی لوری وټاکه. هغه مهال یې زما زړه مات کړ خو زما ژوند یې بدل کړ. د هغه څه درس یې راکړ چې یوه ورځ به نړۍ له ما څخه د هغه آزموینه واخلي.
ما خپل ښوونځی په سمه توگه پای ته ورساوه.

**وياړمن اوسېدل تر وياړل کېدو غوره دي.**

**په یاد مو وي چې:**

**گټونکي**

**متفاوت کارونه نه کوي، بلکې کارونه په متفاوته بڼه ترسره کوي**

**شیوکهرا**

**پای**

# میکرونیزیا

حشمت نوري



میکرونیزیا په اوقیانوسیه کې د شمالي ارام سمندر په لوېدیځه خوا کې د پالوو د ټاپوگانو ختیځې خوا ته د گوام د ټاپو په جنوب لوېدیځ لور کې، د ختیځ طول البلدونو د ۱۵۸ او ۱۵۹ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ٦ او ۸ درجو ترمنځ موقعیت لري، چې پراخوالی یې څه باندې ۲۷۰ کیلومتره ته رسېږي.
دغه هېواد په وچه کې له کوم بل هېواد سره گډه پوله نه لري او په سمندر کې له لاندې ټاپوگانو سره گډه پوله لري:
ختیځ ته یې د مارشال ټاپو، لوېدیځ ته یې د پالوو ټاپو، شمال ته یې د ماریانا ټاپو او جنوب ته یې پاپوانیوگینې ټاپو پروت دی.
میکرونیزیا د استوا کرښې ته نږدې پروت دی، ځکه خو یې هوا توده او د ارام سمندر له اوبو سره د گاونډیتوب له امله ډېره لنده ده. په دغه ټول هېواد په تېره بیا په ختیځو ټاپوگانو کې ټول کال اورښت کېږي. دغه هېواد د سمندري توپانونو د کرښې په جنوبي څنډه کې موقعیت لري او له دې امله کله کله ډېر درانده زیانونه گالي.
د دغه هېواد پلازمېنه د پالیکر ښار دی او د نفوس شمېر یې ۱۰۰ زرو کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۵۸ کسان ژوند کوي.
د میکرونیزیا ۳۰ سلنه وگړي په ښارونو او ۷۰ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.
د دغه هېواد رسمي ژبه انگلیسي او لیکدود یې لاتیني دی. میکرونیزیا د اداري وېش له پلوه په څلورو ولایتونو وېشل شوی دی.
د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري او لومړنی اساسي قانون یې د ۱۹۷۹ ز کال د مې په لسمه نافذ شوی دی.
دغه هېواد د امریکا له متحده ایالاتو سره د خپلواکو اړیکو یو تړون لري، چې د ۱۹۸٦ ز کال د نومبر په درېیمه یې لاسلیک کړی او په ځینو مواردو کې یې بدلونونه راوستي دي. د میکرونیزیا اوسنی ولسمشر مارتین کریستینا دی چې د لومړي وزیر چارې هم پر مخ بیایي.
د دغه هېواد ولسمشر او د هغه مرستیال د هېواد د ولسي جرگې له خوا، د جرگې د هغو څلورو غړو له منځ څخه ټاکل کېږي، چې د څلورو ولایتونو استازیتوب کوي. د دغه هېواد ولسمشر د قانون له مخې دوه ځلې کار کولای شي.
د میکرونیزیا ولسي جرگه ۱۴ غړي لري چې څلور یې د څلورو ولایتونو د خلکو په خوښه د څلورو کلونو او لس نور یې د نفوس په انډول د خلکو په خوښه د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د میکرونیزیا حقوقي نظام پر هغه قوانینو ولاړ دی چې د قیمومیت لاندې سیمو د اصولو له مخې جوړ شوی دی. ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگان دی.
د ۱۹۸٦ ز کال د نومبر په درېیمه یې د ملگرو ملتونو تر قیمومیت لاندې له امریکا څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د مې لسمه د خپلواکۍ د ورځ په نوم پکې نمانځل کېږي.
کرنه او کب نیونه د میکرونیزیا د ټاپوگانو د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي. دغه هېواد داسې لږ کانې زېرمې لري چې د ایستلو وړ او اقتصادي وي، لکه فاسفیټ او نور. دغه هېواد د خپل ښکلي طبیعي جوړښت له امله، د ډېرو سیلانیانو د ورتگ په تمه دی، خو له نورې نړۍ څخه د ډېر لرې والي او د هوایي ډگرونو، پارکونو او هوټلونو د لږوالي له امله کم کسان دغه وړوکي ټاپوییز هېواد ته د ورتگ زړه ښه کوي. په ۱۹۷۹ ز کال کې میکرونیزیا له امریکا سره د خپلواکو اړیکو داسې یو تړون لاسلیک کړ، چې د هغې له مخې به امریکا دغه هېواد ته د ۱۵ کلونو لپاره ۱،۳ بلیون ډالره تخنیکي او مالي مرسته ورکوي. په ۲۰۰۰ ز کال کې د دې مرستې په کلنۍ ورکړه کې ۲۰ سلنه لږوالی راغی، چې یادې مرستې د دغه هېواد ۵۷ سلنه عواید برابرول. د عوایدو کموالي د هېواد اقتصاد له سختو مالي ستونزو سره مخ کړ، خو له امریکا سره د میکرونیزیا د خپلواکو اړیکو په تړون نوي کتنې، امریکا دې ته ژمنه کړه چې تر ۲۰۳۰ ز کال پورې به له دغه هېواد سره مرسته کوي.
د میکرونیزیا ډېر لرې جغرافیایي موقعیت او د اقتصادي بنسټیزو جوړښتونو نشتوالي، دغه هېواد ته اقتصادي زیانونه اړولي دي. اوس اوس یې له نورو هېوادونو سره ښې اړیکې د دې ښکارندویي کوي، چې د دغه هېواد اقتصاد ښه لوري ته روان دی. سیلانیان، لرگي، ملغلرې، وړۍ، د کبانو پروسس، ساختماني مواد او لاسي کارونه یې مهم صنعتي فکټورونه دي.
د دغه هېواد ۷ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۴۴ سلنه یې ځنگلونو او څړځایونو او پاتې نوره یې غرونو، ډېرینو جوړښتونو، غونډیو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده.
تور مرچ، ړدن، خواږه کچالو، د استوایي سیمو مېوې، سابه، غوښه، هگۍ، لبنیات او واښه د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.
فاسفیټ، سره زر او د سمندر د تل کانې زېرمې چې ایستل یې غټه پانگه او پرمختللي وسایل او ټکنالوژي غواړي، د دغه هېواد مهم کانونه بلل کېږي.
جاپان، امریکا، استرالیا او چین یې غټ تجارتي شریکان دي.
میکرونیزیا لس هوایي ډگرونه لري چې شپږ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.
د ټلیفون کود یې ۰۰٦۹۱ او د انټرنېټ کود یې بیا اف ام دی، چې پنځه زره کسان ورته لاسرسی لري.
په دغه هېواد کې ټلوېزیوني خپرونې نشته، خو هر ټاپو داسې کېبل لري چې د نړۍ د سترو شبکو خپرونې پرې کتلای شي. خصوصي سکټور یې بیا لس راډیوگانې لري. پردې سربېره ۷ ورځپاڼې، ۳۵ اونیزې، میاشتنۍ او مهالنۍ لري، چې په بېلابېلو رسمي او انگلیسي ژبه خپرېږي.
په میکرونیزیا کې هر کال تر ۲۰۰ عنوانه نوي کتابونه له چاپه راوځي او هر کال هر سړی په منځنۍ توگه یو کیلوگرام کاغذ د لیکلو، لوستلو او خپرولو لپاره کاروي.
دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د استرالیا او نړۍ په پرمختلونکو هېوادونو کې راځي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته، ۹۵ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦ تر ۱۳ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.
په میکرونیزیا کې د هوا او چاپېریال ساتنه ښه ده او داسې اسانتیاوې شته، چې له اړو خلکو سره د ناروغتیا، وزگارتیا، زړښت او معلولیت په وخت کې مرستې وکړي.
میکرونیزیا اصل کې یوناني نوم دی او د ډېرو کوچنیو ټاپوگانو مانا ورکوي. مارشال کارولنې او ماریانا ټاپوگان په ستره مانا د میکرونیزیا د ټاپوگانو په ټولگي کې راځي، خو په ځانگړې توگه میکرونیزیا د کارولین د ټاپوگانو یوې برخې ته ویل کېږي. دغه ټاپوگان چې میکرونیزیایي او پولي نیزیایي خلک پکې اوسېدل، په ۱۵۳۱ ز کال کې د اسپانوي فردنیاند له خوا وپېژندل شول. نوموړي پر دغو ټاپوگانو د غلو د ټاپوگانو نوم کېښود، لږ وروسته دغه نوم ماریانا شو. ماریانا هغه وخت د اتریش او اسپانیا ملکه وه او ورو ورو ځینې اسپانویان او اروپایان هلته لاړل او په دغو ټاپوگانو کې یې د سوداگرۍ ترځنگ، عصري کرنه دود کړه او هلته یې د اسپانیې د دولت اداري پرانیستلې.
په ۱۸۵۵ ز کال کې المانیانو هڅه وکړه چې دغه ټاپوگان ونیسي، خو اسپانویانو د واتیکان او پاپ په مرسته د المانیانو هڅې شنډې کړې او د ماریانا پر ټاپوگانو یې خپله ولکه ټینگه کړه. په ۱۸۸۸ ز کال کې د کوام ټاپو د پاریس تړون له مخې، امریکا ته ورکړل شوه او یو کال وروسته المان دغه ټاپوگان له اسپانیې څخه په بیه واخیستل. په لومړۍ نړیواله جگړه کې جاپاني پوځونو دغه ټاپوگان ونیول او له همدې ځایه یې په پل هابر یرغل وکړ او په دې توگه یې د ارام سمندر ستره او تاریخي جگړه پیل کړه. په دویمه نړیواله جگړه کې د جاپاني پوځونو تر ماتې وروسته، دغه ټاپوگان د امریکا لاس ته ورغلل. د ۱۹۹۴ ز کال د اپرېل په دویمه، د ملگرو ملتونو د امنیت شورا د ارام سمندر د قیمومیت سیمه جوړه کړه او د شمالي ماریانا کارولین او ارشال د ټاپوگانو اداره یې د امریکا متحده ایالاتو ته وسپاره. امریکا په سیمه کې یوه ستره پوځي اډه جوړه کړه او د دغو ټاپوگانو د دفاع او بهرنۍ چارې یې په خپل لاس کې واخیستې.
امریکا په ۱۹۷۹ ز کال کې میکرونیزیا ته کورواکي ورکړه، امریکا د ۱۹۸۲ ز کال په اکټوبر کې د مارشال د ټاپوگانو او د میکرونیزیا د فدرالي ایالتونو کورنۍ چارې دوی ته وروسپارلې. په ۱۹۹۰ ز کال کې سمندري توپان د میکرونیزیا ټاپوگانو ته ډېر زیانونه واړول، ۹۵ سلنه کښتونه وران او ۵۰۰۰ کسانو بې کوره شول. د ۱۹۹۱ ز کال په مارچ کې، بیلي د خلکو رایې وگټلې او د میکرونیزیا ولسمشر شو. په همدغه کال کې میکرونیزیا د ملگروملتونو او د ۱۹۹۳ ز کال په جولای کې د نړیوال وجهي صندوق غړیتوب تر لاسه کړ.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د میکرونیزیا نوم نشته، ځکه خو دواړه هېوادونه خپلو کې کوم راز اړیکې نه لري.
د کابل او پالیکر ښارونو ترمنځ زماني توپیر ٦:۳۰ ساعته او د هوا له لارې واټن بیا ۹٦۲۷ کیلومترو ته رسېږي.

همیانۍ

# د مسکو هغه ځایونه چې هر کال میلیونونه سیلانیان ورځي

حمیدالله حمیدي

مسکو په نړۍ کې یو له هغو ځایونو دی چې په کلني ډول میلیونونه کسان د دغه ښار له ښکلو او جذابو ځایونو څخه لیدنه کوي. تاسو هم ان که یو ځل کولی شي د مسکو له ښکلو او زړه راښکونکو ځایونو څخه لیدنه وکړئ.

**۱- د مسکو جامع مسجد**

د مسکو جامع مسجد په روسیه کې بیا د اروپا په کچه تر ټولو پخوانی مسجد شمېرل کېږي، چې په لومړي ځل یې په ۱۹۰۴ ز کال کې د بنسټ ډبره د معمار، نیکولای ژوکوف لخوا کېښودل شوه. دغه مسجد د مسکو د څلورو فعالو مسجدونو په ډله کې راځي، چې د مسلمانانو د مرکزي مسجد په نامه هم یاد شوی دی. د مسکو جامع مسجد په ۲۰۰۸ ز کال کې د روسیې د فرهنگي اثارو په نوملړ کې راغی، خو د همدې کال په پای کې بېرته له دغه لېست څخه لرې او له خاورو سره خاورې شو، چې دغه کار د نړۍ د مسلمانانو په تېره بیا د روسیې د مسلمانانو غبرگونونه را وپارول، خو اړوندو چارواکو د نوي او پرمختللي مسجد د جوړولو وعده ورکړه. د نوي مسجد د جوړېدو چارې په ۲۰۱۵ ز کال کې پای ته ورسېدې او د همدغه کال د سپټمبر میاشتې په۲۳مه د عرفې په ورځ د روسیې د ولسمشر، ولادیمیر پوتین او د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان او د اسلامي هېوادونو د یو شمېر مشرانو لخوا پرانیستل شو. دغه مسجد په ۳۱ زره متره مربع ځمکه کې جوړ شوی دی، چې د لس زرو لمونځ کوونکو ظرفیت په داخل او د لس زرو نورو ظرفیت په بیرون کې لري.

**۲- د کرملین ماڼۍ**

د کرملین ماڼۍ تر ټولو مشهور، تاریخي او میراثي ځای دی چې نه یوازې په مسکو کې، بلکې نړیوال شهرت هم لري. په دې ماڼۍ کې بیا د سلاح خونه (Armory Chamber) او د الماسو خزانه (Diamond Fund) یې ډېرې مشهورې دي. په دغو خونو کې یې هغه اثار ځای پر ځای کړي دي چې په نوره نړۍ کې یې بېلگه نشته. د دې ماڼۍ جوړښت د تزاري روسیې د انځور ښکارندویي کوي، چې اوسمهال هم دغه ماڼۍ د روسیې د ولسمشر د هستوگنې اصلي ځای دی.

**۳- د الکساندر باغ**

د الکساندر باغ هم په مسکو کې تر ټولو مشهور ځای دی. دغه باغ چې د کرملین ماڼۍ په څنگ کې دی، ډېر داسې څه لري چې په لیدلو ارزي، نو له همدې کبله ډېر مشهور هم دی. په دغه باغ کې د روسیې د هغو سرتېرو په یاد څلي هم جوړ شوي دي، چې د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال وژل شوي دي.

**۴- سور میدان (Red Square)**

سور میدان؛ پېړۍ کېږي چې د مسکو د زړه په نامه یادېږي او په دغه ښار کې د عمومي را ټولېدنو ځای دی. که د سره میدان په انگړ کې تاو را تاو شئ، نو د لنین قبر به مو ارو مرو تر سترگو شي. لنین د سوسیالېستانو رهبر او د روسیې تر ټولو اغېز ښیندونکی کس و، چې اوس یې جسد مومیایي شوی دی.

**۵- د زېریادي پارک**

د زېریادي پارک چې له پرانیستل کېدو یې زیات وخت نه تېرېږي، سره میدان ته نږدې جوړ شوی دی. کولی شئ په دغه پارک کې د لوی پله پر سر ودرېږئ او له دې ځایه د کرملین ماڼۍ لیدنه هم وکړئ. د دغه پارک بله ښېگڼه دا ده چې د روسیې د هرې سیمې دودیز خواړه په کې پیدا کېږي، چې کولی شئ خوند یې وڅکئ.

**٦- د گورکي پارک**

د گورکي پارک هم د مسکو د تر ټولو ښکلو او جذابو ځایونو په ډله کې راځي، چې په ۱۹۲۸ ز کال کې پرانیستل شوی دی او په ۲۰۱۱ ز کال کې له سره رغول شوی دی. هره ورځ لږ تر لږه شل زره کسان له دغه پارک څخه لیدنه کوي، چې ډېری یې بهرنیان دي او د عوایدو یوه ښه سرچینه بلل کېږي. د یادولو ده چې په دغه پارک کې د یوگا ټولگي هم شته. مسکو پر دې سر بېره ډېر پارکونه، باغونه، سوداگریز مرکزونه، د مترو تم ځایونه او نور ښکلي ځایونه لري چې هر یو یې په لیدو او کتو ارزي.

**۷- مېتروگانې**

د مسکو تر ځمکه لاندې ریل گاډي یا مېترو سیستم د نړۍ له خورا تاریخي ریل شبکو یوه بلل کېږي. د مسکو مېترو تم ځایونه، چې دغه هېواد کې پخوانې کمونیستي حکومتونو جوړ کړي، د پراخوالي او ښکلا له کبله ډېر مهم بلل کېږي. دغه تم ځایونه، د رنگینو هندارو، مرمري مجسمو، نقاشۍ، حکاکۍ او موزایکو په مرسته ښکلي شوي دي. په ۱۹۳۵ ز کال کې چې د مسکو مېترو فعالیت پیل کړ، یوازې ۱۱ تم ځایونه یې درلودل او ۲۸۵ زره کسان یې خپل منزل ته رسول، خو اوس د مسکو مېترو ۲۰٦ تم ځایونه لري او هره ورځ نهه میلیونه کسان په کې سفر کوي. نن سبا د مسکو مېترو تمځایونو کې وړیا انټرنېټ ته لاسرسی کېږي او په انگلیسي ژبه لیکل شوي لوحې په کې لیدل کېږي. مسکو مېترو تم ځایونه د سیلانیانو لپاره هم د پام وړ ځایونه دي. په دغو تمځایونو کې د (سیلفي) تصویرونو اخیستو لپاره ځایونه ځانگړي شوي دي.


## سرچینې: طالب استازو اسلام اباد ته خپل سفر لغوه کړی دی

د طالبانو یوې سرچینې د امریکا غږ انگلیسي څانگې ته ویلي، چې د طالبانو د قطر دفتر استازو اسلام اباد ته خپل سفر لغوه کړی دی.

که څه هم دې سرچینې پاکستان ته د طالبانو د سفر د لغوه کېدو د لامل په اړه نور معلومات نه دي ورکړي، خو مخکې ځینو رسنیو پاکستان ته د طالب پلاوي د سفر په اړه د طالبانو د مشرانو ترمنځ د اختلافونو د رامنځته کېدو په اړه راپورونه ورکړي وو.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو تېره اونۍ ویلي وو چې د دوی د قطر دفتر یو پلاوی به نن دوشنبه د پاکستان په بلنه، اسلام آباد کې د پاکستان له صدراعظم او امریکایي چارواکو سره خبرې وکړي.

طالبانو په یوه اعلامیه کې ویلي وو چې د دوی استازي به له عمران خان سره د افغانستان او پاکستان د اړیکو او دغه راز د افغان کډوالو او سوداگرو د ستونزو په هکله خبرې وکړي.



بلخوا د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم کابل ته په خپل سفر کې له اجرایه رییس عبدالله عبدالله سره د خپل وروستي سفر جزیات شریک کړي دي.

په داسې حال کې چې ټاکل شوې وه خلیلزاد هم روانه اونۍ پاکستان ته سفر وکړي، خو یوه امریکایي چارواکي امریکا غږ ته ویلي چې خلیلزاد په روانه اونۍ کې پاکستان ته د سفر پلان نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت تر دې وړاندې پاکستان ته د طالب پلاوي پر کېدونکي سفر غبرگون ښودلی و.

د بهرنیو چارو وزارت امریکا غږ ته ویلي چې پاکستان ته د وسله والو طالبانو د استازو د کېدونکي سفر په اړه، اسلام اباد له کابل سره همغږي نه ده کړې.

د دغه وزارت ویاند، صبغت الله احمدي پاکستان ته د طالب استازو سفر د افغانستان له ملي حاکمیت څخه سرغړونه بللې ده.

احمدي ویلي، پاکستان ته د طالب استازو سفر د ملگرو ملتونو د بندیزونو کمېټې له اصولو خلاف دی او نوموړي منلي چې افغان حکومت په دې اړه د ملگرو ملتونو د بندیزونو کمېټې ته شکایت کړی دی.

افغان حکومت تر دې مخکې روسیې ته هم د طالب استازو د سفر په اړه د ملگرو ملتونو د بندیزونو کمېټې ته شکایت کړی و.

بلخوا وسله والو طالبانو رسنیو ته په رالېږلې اعلامیه کې ویلي، چې غونډه د دوی له لوري نه ده لغوه شوې. په اعلامیه کې راغلي چې دوی غونډې ته پوره چمتووالی نیولی و، خو د امریکا او ملگرو ملتونو د تورلېست له کبله د دوی مذاکراتي ټیم په دې نه دی توانېدلی چې په یاده غونډه کې گډون وکړي.

## پېنس: تمه لرو چې له طالبانو سره په روانو خبرو کې به افغان حکومت هم گډون وکړي

د متحده ایالتونو مرستیال ولسمشر مایک پېنس ویلي چې له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د افغانستان د حکومت د گډون په تمه دی.

پېنس دغه خبرې د جرمني په مونیخ ښار کې د نړیوال امنیتي کنفرانس په څنډه کې له ولسمشر محمد اشرف غني سره په لیدنه کې کړې دي.

هغه ویلي: «متحده ایالتونه او زموږ متحدان ستاسو له وسله والو ځواکونو سره کار کوي. هغوی د طالبانو، القاعده او د اسلامي دولت د خراسان له ډلې سره جنگېدلي دي، موږ دې هڅولي یو چې طالبان خبرو ته حاضر شوي دي، موږ د دې خبرو د پرمختگ او په هغې کې ستاسو د حکومت د مشارکت په تمه یو. لکه څرنگه چې زه او ته غږېدلي یو او له ولسمشر ټرمپ سره تاسو خبرې شوې، هیله لرو چې په نهایت کې داسې



جوړجاړی وشي چې افغانانو ته روښانه راتلونکی جوړ کړي.»

پېنس دغه راز ویلي، امریکا ژمنه ده چې افغانستان به بیا د تروریستانو لپاره په خوندي ځاله نه بدلېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ هم له ازادي راډیو سره په ځانگړې مرکه کې ویلي وو، چې د سولې په بهیر کې د افغانستان د حکومت د گډون کلک ملاتړ کوي او د هغه په خبره، د حکومت له گډون پرته د سولې روانې خبرې پایله نه لري.

سټولټنبرگ ویلي وو: «په افغانستان کې اوږدمهاله سوله د افغانستان د حکومت له شراکته پرته امکان نه لري».

خو طالبانو بیا په وار وار ویلي چې د سولې روانې خبرې یې له امریکایي لوري سره دي او دوی پلان نه لري چې د افغانستان له حکومت سره خبرې وکړي.

بلخوا ټاکل شوې وه چې طالب استازي به نن په اسلام اباد کې له امریکایي پلاوي سره وگوري، خو د نامعلومو دلایلو له مخې، دغه ناسته ځنډول شوې ده.

روېټرز خبري اژانس د تېرې پنجشنبې په ورځ د پاکستان د اطلاعاتو د وزیر، فواد چودري په حواله ویلي وو چې طالبان د دوی په بلنه په اسلام اباد کې د امریکا له پلاوي سره گوري. دا په داسې حال کې ده چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه بېلابېل نظرونه خپرېږي.

د امریکا د دفاع وزارت سرپرست، پاټریک شاناهان تېره اونۍ د ناټو د غړو هېوادونو د دفاع وزیرانو ته ډاډ ورکړی، چې د خپلو متحدانو له خبرتیا پرته به له افغانستانه خپل عسکر ونه باسي.

خو په منځني ختیځ کې د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر، جنرال جوزېف ووټل د جمعې په ورځ خبریالانو ته ویلي چې ښایي له زرو زیات امریکایي عسکر له افغانستانه وایستل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,۵۰ |
| € | ۸٤,۵۰ |
| Rp. | ۵۳۵ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily





# المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۸مه | دویم کال | ۳۳٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ۱۲ | ۱۵ | ۸ | ۱۵ | ۱۳ |
| -۹ | ۲ | ۳ | ۰ | ۵ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۸ | لمر ختل ۰٦:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیګر ۰٤:۱۹ | ماښام ۰۵:۵۸ | ماخوستن ۰۷:۲۱

## نړۍ



# ټرمپ: د داعش اته سوه نیول شوي جنګیالي دې محاکمه شي

۳

## روحاني: ایران غواړي چې د منځني ختیځ له هېوادونو سره بېرته اړیکې ورغوي



د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي چې تهران غواړي د منځني ختیځ له ټولو هېوادونو سره خپلې اړیکې ښې کړي.

روحاني دغه خرګندونې په داسې حال کې کوي چې ایران له کلونو راهیسې له سعودي عربستان او د سیمې له نورو هېوادونو سره په نیابتي جګړو کې ښکېل دی.

روحاني د دغه هېواد په جنوبي ښار بندر ګناوه کې، په یوه ټلوېزیوني وینا کې ویلي چې هېواد یې چمتو دی، څو په منځني ختیځ کې د امنیت د اعادې لپاره د سیمې له ټولو هېوادونو سره اړیکې پراخې کړي.

نوموړي دغه راز پر متحده ایالتونو او اسرائیلو تور لګولی چې په ایران کې نفاق ته لمن وهي او زیاته کړې یې ده، چې تهران به هېڅکله د دغو هېوادونو فشارونو ته تسلیم نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې روحاني تېره اونۍ د سیستان په بلوچستان کې د هغه برید مسوولیت هم پر امریکا او اسرائیلو ور واچوه، په کوم کې چې ۲۷ ایراني سرتېري ووژل شول.

روحاني دا نه ده په ډاګه کړې چې هېواد یې د منځني ختیځ له کومو هېوادونو سره د اړیکو رغول غواړي، خو متحده عربي امارات، سعودي عرب او اسرائیل په منځني ختیځ کې د ایران له سرسختو مخالفینو څخه دي، چې وخت ناوخت پر یو او بل تونډې نیوکې هم کوي.

## چین: په جنوبي سمندر کې د امریکا پراخېدونکی حضور به کړکېچ نور هم زیات کړي



د چین د بهرنیو چارو وزارت خبرداری ورکړی چې په جنوبي سمندر کې به د امریکا د نظامي حضور ډېرېدل په سیمه کې کړکېچونه نور هم زیات کړي.

د چین د بهرنیو چارو وزات ویاندې، هوا چون اینګ ویلي چې دوی د متحده ایالتونو د وروستیو پاروونکو اقداماتو په غبرګون کې سیمې ته جنګي بېړۍ او الوتکې استولې دي.

بلخوا په ارام سمندرګي کې د امریکا د سمندري ځواکونو قوماندان، پیټر ډېوېډسون ویلي چې دوی به سیمې ته نور نظامي تجهیزات هم ولېږي او په خبره یې، هلته به خپله پوځي اډه پراخه کړي.

هغه زیاته کړې چې دوی له خپلو متحدینو سره پر خبرو بوخت دي، څو څه ډول په سیمه کې خپل حضور نور هم پراخ کړي.

په ورته وخت کې د چین د بهرنیو چارو وزارت د دغه امریکایي چارواکي خبرې غندلې او خبرداری یې ورکړی، چې د متحده ایالتونو دغه پارونکي اقدامات به په سیمه کې روان کړکېچونه نور هم زیات کړي.

چین ویلي چې په جنوبي سمندرګي کې یې حضور د دې لپاره دی، څو په سیمه کې له مرستندویو سازمانونو سره مرسته وکړي، خو امریکا بیا تل دا هڅه کوي چې دلته خپل نظامي حضور پراخ کړي.

## وزارت انرژی و آب:

# کار عملی ساخت بندهای آب بزودی آغاز می‌شود



احمد ویس بصیری سرپرست ریاست عمومی تنظیم آب این وزارت، روز یک‌شنبه به رادیو آزادی گفت استه که برنامه‌های وسیع برای ساخت بندهای خرد و بزرگ جهت مدیریت بهتر آب روی دست است که بزودی کار عملی آن آغاز خواهد شد.

بصیری افزوده است: «وزارت انرژی و آب برای منابع آبی برنامه‌های مختلف دارد، در هفته آینده ما عملاً کار را آغاز می‌کنیم، این پروژه دو فایده خواهد کرد، اول این‌که آب مدیریت می‌شود و از سوی دیگر از سیلاب‌های جلوگیری می‌شود که ویرانی را بوجود می‌آورد.»

وزارت انرژی و آب می‌گوید که به اثر بارندگی‌های اخیر سطح آب بند برق کجکی ۵۹ متر بلند شده‌است و ابراز امیدواری می‌کند که با این کار، مشکل در بخش برق و آبیاری زمین‌ها نیز هموار گردد.


این در حالیست که در تابستان سال گذشته به سبب خشکسالی شدید، آب بند کجکی بسیار کم شده و به گفته مسئولین برق، سطح کاهش آب به ۴٦ متر رسیده بود.

اما شماری از اعضای ولسی جرگه با انتقاد از حکومت می‌گویند که تا هنوز نتوانسته است که آب‌های افغانستان را به گونه بهتر آن مدیریت کند.

در عین حال انجنیر صاحب خان عضو کمیسیون تنظیم آب و انرژی ولسی جرگه به رادیو آزادی گفته است: «بدبختانه که برای مدیریت بهتر آب تاکنون سیستمی ساخته نشده‌است و در ۱۸ سال گذشته ما نتوانستیم که آب افغانستان را درست مدیریت کنیم و بخش زیاد آن ضایع می‌شود، رئیس جمهور گفت که بندهای آب را می‌سازد اما تا فعلاً این موضوع در حد یک تعهد باقی مانده‌است.»


## ژوند

## انسټاګرام جعلي اکونټونه له منځه وړي



انسټاګرام اعلان کړی چې کارکوونکي یې د هغو اکونټونو پر له منځه وړلو بوخت دي، چې جعلي دي او یا هم له ډېرې مودې را په دېخوا کارول شوي نه دي. استاګرام وایي، دا کار یې هغه وخت پیل کړی چې په دې وروستیو کې د انسټاګرام ډېرو مشهورو کارونکو ورته شکایت وکړ، چې د کتونکو شمېر یې په بې ساري ډول د کمېدو په حال کې دی. دغو کسانو ورته ویلي، چې ځینې جعلي اکونټونه چې له غیر مجازو اپلېکېشنونو کار اخلي، د دوی څارونکي یې نیم په نیمه کم کړي دي. انسټاګرام شرکت په یوه ټوېټ کې ویلي چې په ډېرې چټکۍ سره یې د جعلي، مشکوکو او غیر فعال اکونټونو د له منځه وړلو کار پیل کړی دی. دغه کار نه یوازې انسټاګرام پیل کړی، بلکې د ټولنیزو شبکو ډېری شرکتونه اوس هڅه کوي، چې جعلي، مشکوک او غیر فعال اکونټونه لمنځه یوسي، څو په راتلونکو کې د ځینو ورته پېښو مخه ونیسي. تاسو هم که انسټاګرام لرئ، هڅه مه کوئ چې له غیر مجازو لارو خپل لایکونه او فالورس ډېر کړئ. خپل اکونټ په منظمه توګه وکاروئ، څو یې دغه شرکت د بندولو هڅه ونه کړي.

## طبیعي څښاک مو ذهني ستړیا له منځه وړي



ډېری کسانو ته په دې اړه معلومات شته چې کوم ډول څښاک یې د بدن لپاره ګټور او کوم مضر دي، خو کېدای شي ځینې یې بیا په دې لټه کې وي، چې داسې طبیعي څه به هم وي چې په څښلو سره یې انسان د ارامۍ احساس وکړي، ستړیا او خپګان یې له منځه یوسي؟ که تاسو هم له دې ډلې کسانو یاست، نو ښه ده چې پوه شئ. داسې غیر الکولي مواد هم شته چې ذهن اراموي، خپګان مو له منځه وړي او په طبیعت کې په اسانۍ سره پیدا کېږي.

هغه څښاک چې ارام در ببښي

دا هغه څښاک دی چې نه یوازې ستړېس او خپګان مو له منځه وړي، بلکې ذهن مو هم پیاوړی کوي.

که غواړئ ارام خوب وکړئ، یو ګېلاس ګرمې شیدې وڅښئ؛ شیدې په زیاته کچه د (تریپتوفان) په نوم امینو اسیدونه لري، چې د ستړېس او خپګان د له منځه وړو تر ټولو ښه نسخه بلل کېږي. تودو شیدو ته که یو څه شات ور واچول شي، ګټه یې یو پر دوه کېږي، دغه راز د شیدو او شاتو یو ځای څښل په بدن کې د انتي اکسیدان اغېز هم زیاتوي.

که غواړئ له عادي چای څخه هم د یوه ښه مسکن او ګټور درمل په توګه کار واخلئ، نوه یوه کاچوغه شات ور زیات کړئ، له شنه چای سره د شاتو څښل هم د هغه څښاک په ډله کې راځي چې ستړېس، خپګان او دماغي ستړیا له منځه وړي.